

# مونږ او
# سوشل میډیا

**24-October-2024**

هفته وار د سُنتو ډکه اجتماع کښې کېدونکې

د سُنتو ډک بیان

**(for Islamic Brothers)**

پۀ 24 اکتوبر کال 2024ء (20 ربیعُ الآخر، کال 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# مونږ او سوشل میډیا

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زړۀ مبارک اوچت شان
- د سوشل میډیا څه فائدې
- عِلمِ دِین د چا نه زده کول پکار دي ؟
- د سوشل میډیا د استعمالولو یو څو احتیاطونه

پیشکش
اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعين عطّار، قسط: 2، صفحه: 6، حديثِ پاک نمبر: 6 دے:

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: لَا وُضُوءَ لِمَنْ لَّمْ يُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

ترجمه: د هغۀ اودس نشته خوک چې په نبي (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) باندې دُرُودِ پاک اونه لولي- (1)

شرحِ حديث: يعني د هغه کَس اودس د مکمل فضيلت والا نه دے خوک چې د اودس نه پس په نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُودِ پاک اونه لولي- (2)

عاصيو! جُرم کی دَوا ہے درود
چھوڑیو مت، درود کو کافی

کیا دَوا، عینِ کیمیا ہے درود
راہِ جنّت کا، رہنما ہے درود

وضاحت: د ګنهګارانو د ګناهونو د بخښنې بهترين حل دُرُودِ پاک دے، دُرُودِ پاک لوستل مۀ پرېږدئ، دُرُودِ پاک د جنَّت رهنما دے-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

[1]... معجم کبیر، حدیث: 5698-
[2]... التیسیر شرح جامع صغیر، جلد: 2، صفحہ: 503-

## د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي:اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے۔ (1)

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پۀ اَدب به کښېنم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## دا څادر فلانکي له ورکړه---!

پۀ **بخاري شریف** کښې حدیثِ پاک دے، د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت سیده عائشه صِدِّیقه، طیبه، طاهِره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا فرمائي: د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (پۀ خِدمت کښې د **خَمِیصَه** نومې یو ښکلې ډیزائن څادر وړاندې کړے شو، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ) هُغه واچولو او نـمونځ یـې ادا کړو، د سلام ګرځولو نه پس یـې وفرمائیل: **زما سره ویره پیدا شوه چې د دې څادر د ګلونو له وجهې به مې توجه خرابه شي، ځکه دا څادر اَبُو جَهم (صحابي) له ورکړئ!** (بخاري)

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الأُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې حدیثِ پاک لاندې لیکي: پۀ عربۍ کښې **خَمِیصَه** د ګلونو والا (یعنې ډیزائن) والا څادر ته وئیلے شي، دا د وړۍ تور څادر وو کوم چې اَبُو جَهم (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) هدیةً (یعنې د تحفې پۀ طور) د خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّد عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې وړاندې

---

[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

کړے وو، دا يـې اچولے وو او رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نـمونځ ادا کړو- بیا يـې واپس هغوئي ته ولیږلو-

## د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړۀ مبارک اوچت شان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان مبارک ډیر اوچت دے، ډیر زیات اوچت دے، دومره اوچت دے چې د هغوئي شان بیانول خو غټه خبره ده، پۀ مخلوق کښې څوک هم د هغوئي شان مبارک پۀ پوره توګه پيژندلے هم نشي- چا عاشقِ رسول وئيلي دي:

تیرا اوصف بیاں ہو کس سے، تیری کون کرے گا بڑائی
اس گردِ سَفَر میں گم ہے جبریلِ امیں کی رسائی

وضاحت: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو اوصاف او کمالات دومره د اوچت شان والا دي چې عام انسانان خو يو طرفته کړه چې حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام هم لکه څنګه چې د هغې حق دے نشي بیانولے-

زمونږه نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د داسې شان والا دے چې ❁ د مِعراج پۀ شپه باندې يـې د کائنات عجائبات وکتل ❁ د نبیانو امامت يـې وکړو ❁ د اسمانونو سیل يـې وکړو ❁ د جنَّت نظارې يـې ولیدلې، د دې باوجود يـې شان مبارک دا وو چې

مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ﴿۱۷﴾
(پاره:27، سورۀ نجم:17)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: سترګه نۀ کوم طرف ته تاؤ شوه او نۀ د حد نه واوُخته-

يعنې د زړۀ مبارک توجه اوړیدل خو غټه خبره ده---!! پۀ ظاهري سترګو مبارکو باندې

يـې هم هيڅ اثر اونه شو- معلومه شوه چې د چا پۀ توجه مبارکه باندې د جنَّت ښکلې نظارې هم اثر نشي کولے، يو وړوکے شان څادر به د هغوئي توجه ځنګه واړوي- دا څادر مبارک د ځان نه لرې کول پۀ اصل کښې زمونږ د تعليم د پاره وو، مونږه غلامانو ته يو سبق راکولے کيدلو، لکه چې مونږه پوهه کړے شو چې اے زما غلامانو! د الله پاک د ياد نه غافله کوونکې څيزونه خو يو اړخ ته پاتې شول، کوم څيز چې پۀ دې ياد کښې خنډ [يعنې رکاوټ] هم پيدا کوي، تاسو هُغه څيز هم د ځان نه لرې کوئ!

کچھ ایسا ہو کرم ماہِ رسالت یارسولَ اللہ! | کروں اللہ کی دل سے عبادت یارسولَ اللہ!

## د موبائل فُون يو غټ نقصان

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور وکړئ! څومره ښکلې خبره ده ❀ ډيزائن والا څادر جوړول هم جائز دي ❀ دا خرڅول هم جائز دي ❀ دا اچول هم جائز دي ❀ په دې کښې نـمونځ کول هم جائز دي، د دې باوجود د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سيرت درس دا دے چې که داسې څادر پۀ نـمونځ کښې خنډ [يعنې رکاوټ] جوړيدے شي نو دا د ځان نه لرې کول پکـار دي-

بل خوا زمونږه حالت څۀ دے؟ ❀ ميوزيکـل ټونز (***Musical tunes***) جوړول هم جائز نه دي ❀ دا حاصلول هم جائز نه دي ❀ لګول يـې هم جائز نه دي ❀ پخپله يـې اوريدل هم جائز نه دي ❀ نورو ته اورول يـې هم جائز نه دي خو افسوس چې زمونږه پۀ جوماتونو کښې عين د جَمعې پۀ وخت ميوزيکـل ټونز غږيږي ❀ خپل نـمونځ هم خرابيږي ❀ نور هم د خطرو سره مخ کيږي ❀ بيا د الله پاک پۀ کور کښې دننه، هُغه ځائے کوم چې خاص د عبادت د پاره جوړ کړے شوے دے، پۀ هُغه ځائے کښې هم شيطاني ميوزک غږيږي-

زما پهٔ خیال د موبائل (*Mobile*) چې د ټولو نه کوم غټ نقصان اِسلامي معاشرې ته رسیدلے دے، هغه دا دے چې دا د جومات د بے حرمتۍ سبب جوړیږي- هسې زمونږه پهٔ معاشره کښې میوزک چرته نشته؟ ❁ پهٔ یو سړک باندې بغیر د میوزک د اواز اوریدو نه بغیر پورې وتل ګران شوي دي ❁ پهٔ کورونو کښې میوزک ❁ پهٔ کوڅو کښې میوزک ❁ پهٔ محلو کښې میوزک ❁ پهٔ سړکونو باندې میوزک ❁ پهٔ بسونو کښې میوزک ❁ پهٔ رکشو کښې میوزک ❁ پهٔ جازونو کښې میوزک--!! آه! افسوس چې هر طرف نه د میوزک اوازونه راځي، یو ځائے کوم چې د دې پلیتۍ نه بچ وو، یعنې د الله پاک کور، ښکلي ښکلي جوماتونه--!! د موبائل د راتللو نقصان دا وشو چې اوس پهٔ جوماتونو کښې هم میوزیکل ټونز غږیږي- عام طور امامان صاحبان د جَمعې نه مخکښې اِعلان هم کوي: که **موبائل وي نو بند یې کړئ! یا یې سائیلنټ (*Silent*) کړئ!** پته نه لګي چې بیا هم موبائلونه ولې نه بندیږي، پهٔ سائیلنټ باندې ولې نه لګولے کیږي، پهٔ ډیرو خلقو باندې دا اِعلان اثر نه کوي-

## باغ یې صدقه کړو

یو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے: حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ- د هغوئي یو باغ وو، یو ځل یې هلته نمونځ ادا کولو-

یقیناً چې دا به نفل نمونځ وو، فرض نمونځ خو به یې د محبوبِ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د جَمعې سره پهٔ جومات کښې ادا کولو- خیر! هغوئي پهٔ باغ کښې نمونځ کولو، ناڅاپه د یو خړ رنګ کونتره د باغ نه والوتله او د بهر وتلو د لارې لټولو د پاره اخوا دیخوا الوتله، دا منظر ډیر ښکلے وو، د حضرت ابو طلحه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دې طرف ته پام شو، چې له وجهې یې هغوئي ته د نمونځ رکعتونه یاد نه شول-

اَللّٰهُ اَکْبَر! د صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ جذبې ته وګورئ! مرغۍ هغوئي پخپله نه وه الوځولې، هُغه طرف ته پۀ توجه کولو کښې د هغوئي خپل هيڅ قصور نه وو خو هُغه باغ د هغوئي وو ❀ نۀ به هُغه باغ وے ❀ نه به هغوئي هلته نـمونځ کولو ❀ نۀ به مرغۍ پاڅيدله ❀ نۀ به يـې هُغه طرف ته پام کيدلو ❀ نۀ به ترينه د نـمونځ رکعتونه هيريدل، يعنې د دومره لرې واسطو سره څۀ نا څۀ د رکعتونو د هيريدلو سبب دا باغ جوړ شوے وو، نو هغوئي فوراً پۀ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضر شول او عرض يـې وکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د اوس نه دا باغ صدقه دے- (فيضانِ نماز)

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا باغ به څومره ګران وو---؟ خو پۀ نـمونځ کښې د خنډ [يعنې رکاوټ] جوړيدو سبب جوړ شو، ځکه يـې صدقه کړو- زمونږ نه خو هډو دا غوښتنه نه کيږي چې موبائل صدقه کړئ، دا غوښتنه هم نه کيږي چې موبائل هډو د ځان سره مۀ ساتئ، صرف دا وئيلے کيږي چې د نـمونځ پۀ وخت کښې دا بند کړئ! يا يـې کم از کم سائيلنټ کړئ! چې دغه شان پۀ نـمونځ کښې خنډ [يعنې رکاوټ] جوړ نشي خو افسوس چې مونږه دومره همت هم نشو کولے-

## مونږ او زمونږه نـمونځونه

هسې چې مونږه لږ غور وکړو، مونږ د الله پاک د ياد د پاره څومره وخت اوباسو--!! پۀ دُکان کښې ناست يو، پۀ کار روزګار کښې مصروف يو، اذان وشي، بيا هم ناست يو، بيا تَثوِيب کيږي يعنې بيا اعلان کولے شي، بعضې ځايونو کښې د صلوٰة و وسلام وئيلو سره توجه راګرځولے شي چې جَمعه ودريدونکې ده- بيا مونږه پۀ منډه منډه جومات ته لاړ شو، پۀ مشکله پوره رکعتونه د جَمعې سره رالاندې کړو، هغه هم که پۀ قِسمت باندې ميلاؤ شي، ګنې نو څۀ رکعتونه رانه لاړ هم شي، پۀ مشکله باندې د 15 نه تر 20 منټو

پورې وخت پۀ جومات کښې تیروو، دا لږ شان وخت هم پۀ پوره توجه سره د الله پاک پۀ یاد کښې تیر نشي ❀ کله میوزیکل ټونز غږیږي ❀ کله د موبائل وائبریشن زمونږه توجه اړوي، که دا لږ شان وخت هم د الله پاک د یاد د پاره خالِص نه شو نو بیا! مونږه څۀ حاصل کړل---؟ ژوند مو پۀ کومو کارونو کښې تیر کړو---؟

| | |
|---|---|
| دوپل تیری یاد کو میسر نہیں کامل | کیا ہو گیا حال ہمارا یاالٰہی! |
| لگ جائے عبادت میں دل ہمارا | کر دے کرم یاخُدا! یاالٰہی! |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو نه کټ شيء---!!

الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ (پاره:29، سورۃ مزمل:8) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او د خپل رب نوم یاد کړه- |

یعني اے حبیبه! صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ، تاسو د شپې او ورځې پۀ ټولو وختونو کښې د خپل رَبّ نوم یادوئ که ❀ هغه د تسبیح او کلمه طیبه لوستلو سره وي ❀ د نـمونځ ادا کولو سره ❀ د قرآنِ پاک د تلاوت کولو سره او که د عِلم د درس ورکولو سره وي- (صراط الجنان)

نوریـې وفرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَتَبَتَّلْ اِلَیْهِ تَبْتِیْلًا ﴿۸﴾ (پاره:29، سورۃ مزمل:8) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او د ټولو نه جُدا شوے هُم د هغۀ جوړ شوے اوسه- |

یعني د الله پاک عبادت دې داسې وي چې زړۀ د الله پاک د یاد نه علاوه پۀ بَل څۀ یاد کښې مشغول نه وي، د عبادت پۀ وخت د ټولو سره تعلق ختم شي، صرف او صرف هم د

الله پاک طرف ته توجه وي-
کاش چې زمونږه دا سعادت نصيب شي- دومره شان د الله پاک محبت خو مو زړۀ ته راشي چې سجده کوو نو زړۀ مو د الله پاک پۀ ياد کښې ډوب وي او د هغۀ نه علاوه بَل هيڅ طرف ته پام نه وي-

آؤ! اِک سجدہ کریں عالمِ مدہوشی میں | لوگ کہتے ہیں ساغرؔ کو خُدا یاد نہیں

## د الله والؤ ښکلے انداز

حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا ډيره لويه وَلِيّه تيره شوې ده- د هغې عادت وو چې روزانه به يې پۀ کثرت سره نفلونه ادا کول او فرمائيل به يې: زۀ غواړم چې د قيامت پۀ ورځ کله د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې حاضره شم نو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشحاله شي او نورو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام ته وه وائي: وګورئ! دا زما د اُمَّت يوه زنانه ده، کومې چې به روزانه پۀ کثرت سره نفلونه ادا کول-

يو ځل حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا پۀ کمره کښې ناسته وه او د الله پاک پۀ ياد کښې مصروفه وه- بهر باران وشو ❀ موسم ښکلے شو ❀ هر څيز ښکلے ښکلے وو ❀ د ونو پاڼو هم غسل کړے وو ❀ نرۍ نرۍ هوا لګيدله ❀ نمر راختلے وو ❀ د دې سره سره پۀ اسمان باندې د بوډۍ ټال (**Rain Bow**) هم جوړ شو، د 7 رنګونو دائره کومه چې د باران نه پس کله نا کله پۀ اسمان باندې جوړيږي، دې ته د بوډۍ ټال وئيلے شي- دا ټول منظر ډير ښکلے او زړۀ راښکونکے وو- د حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا خادمې چې دا منظر وليدلو نو عرض يې وکړو: اے رابعه! بهر تشريف راوړئ! د الله پاک د قُدرت تماشه وکړئ! اوئې فرمائيل: دا نظارې پريږده---!! دننه راشه! زما سره

کښنینه او د دې منظر د جوړونکي په یاد کښې مصروفه شه---!! [1]

نہ غرض کسی سے نہ واسطہ
مجھے کام اپنے ہی کام سے
تیرے ذِکر سے، تیری فکر سے
تری یاد سے، ترے نام سے

سُبْحٰنَ الله! دا دے د الله والؤ ښکلے انداز---!! د قدرت ښکلو نظارو ته کتل جائز دي، په دې کښې ګناه نشته خو دا الله والا دي، د الله پاک سره محبت کوونکي خلق دي، د الله پاک په یاد کښې به داسې مصروفه کیدل چې د دې طرف نه به یې پام نۀ اړولو او بَل طرف ته به نۀ متوجه کیدل-

## مونږه او سوشل میډیا (Social Media)

افسوس چې اوس خو زمونږه حال بالکل بدل دے- اول خو د الله پاک د یاد د پاره هډو وخت نه اوباسو، په دُنیا کښې دومره انښتي یو چې شپه ورځ د ګټلو، خوړلو وغیره خیال راسره وي، باقي کسر یې سوشل میډیا تمام کړے دے- بس موبائل په لاس کښې دے، د دُنیا او د جهان نه بے نیازه بس په دې کښې انښتي یو ❀ په فیس بُک (***Facebook***) ❀ یُوټیوب (***YouTube***) ❀ انسټا ګرام (***Instagram***) ❀ وغیره باندې فضول پوسټونه ګورو، د ګناهونو نه ډک ریلز (***Reels***) ګورو، په ټِک ټاک (***Tik Tok***) باندې ویډیو ګانې ګورو، فضول سکرولنګ کوو، ډیرې ګینټې په دې فضولیاتو بلکې د ګناهونو نه په ډکو کارونو کښې تیریږي، نۀ مو ترینه د دُنیا فائده واخستله او نۀ مو د اخرت څۀ تیارے وکړو، داسې دُنیا هم برباده شوه او اخرت هم تباه شو---!!

نہ خدا ہی ملا نہ وِصالِ صَنَم
نہ اِدھر کے رہے نہ اُدھر کے رہے

---

1... تذكرة الاولياء، باب هشتم، ذكررابعة رحمة الله عليها، ١/٧٢.

يعني پۀ سوشل میډیا کښې داسې ورک شو چې نۀ مو د دُنیا څۀ فائده حاصله کړه او نۀ مو اخرت وګټو، بس هسې مو خپل قیمتي وخت ته وور ورته کړو- کاش چې زمونږ سره احساس پیدا شي او مونږ خپل وخت پۀ نیک کارونو کښې تیرولو والا جوړ شو-

کچھ ایسا ہو کرم ماہِ رسالت یارسولَ اللہ! | کروں اللہ کی دل سے عبادت یارسولَ اللہ!

## د سوشل میډیا څه فائدې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! زۀ دا هیڅکله نۀ وایم چې د سوشل میډیا صرف او صرف نقصانونه دي، یقیناً د دې فائدې هم دي، ❁ د سوشل میډیا پۀ ذریعه پۀ رابطو کښې ډیره اساني راغلې ده ❁ مونږ د لرې ناستو خپلو خپلوانو سره پۀ رابطه کښې یو ❁ پۀ خیر خیریت معلومولو کښې اساني وي ❁ د دې پۀ ذریعه د هفتو، میاشتو کارونه پۀ ګینټو او منټونو کښې کیږي ❁ د سوشل میډیا پۀ ذریعه د نیکۍ دعوت عام کول اسان شوي دي ❁ د دې پۀ ذریعه عِلمِ دِین زده کول ښودل اسان شوي دي ❁ بلکې سوشل میډیا د ثوابِ جاریه ذریعه هم ده، څومره عاشقانِ رسول علمائے کرام دي، کومو چې د دُنیا نه تشریف وړے دے خو پۀ سوشل میډیا د هغوئي ایمان تازه کوونکي بیانونه موجود دي، خلق یې اوري، عِلمِ دِین زده کوي، د عمل جذبه بیاموي، د دعوت اسلامي د مرکزي مجلش شوري مرخدائے ښبلےنګران شوري حاجي مشتاق عطّاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د دُنیا نه تشریف وړے دے، الله پاک دې پۀ هغوئي باندې رحمتونه نازل کړي، د هغوئي نعتونه اوس هم پۀ سوشل میډیا باندې موجود دي، د اوریدو سره سکون میلاوٶیږي، پۀ زړۀ کښې عشقِ رسول زیاتیږي، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! دا د هغوئي نیکي ده کومه چې اوسه پورې باقي ده، یقیناً د دې ثواب به هم هغوئي ته میلاوٶیږي- داسې چې نور غور وکړئ نو ډیرې فائدې دي- خو---

## د سوشل ميډيا مثال د شرابو په شان دے

د سوشل ميډيا مثال د شرابو او د جوارۍ په شان دے- الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَاِثْمُهُمَاۤ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ؕ
(پاره:2، سورۀ بقره:219)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د دې دواړو ګناه د دې د ګټې نه زياته لويه ده-

يعنې د شرابو او جوارۍ په ظاهره څۀ فائدې هم دي خو د دې ګناه، د دې د فائدو نه ډيره زياته ده-

زۀ دا نۀ وايم چې سوشل ميډيا د شرابو په شان حرامه او ګناه ده- دا مې صرف د پوهه کولو د پاره يو مثال عرض کړو چې څنګه د شرابو او د جوارۍ په ظاهره باندې يو څو فائدې دي خو د هغې ګناهونه د فائدو نه ډير زيات دي هُم داسې د سوشل ميډيا فائدې هم دي خو د دې په ذريعه په ګناهونو کښې د اخته کيدو خطري او د دې نقصانونه ډير زيات دي-

## د غوروفکر يوه پوښتنه

د ټولو نه زيات نقصان خو د دې دا دے چې سوشل ميډيا د غفلت ډير لوئي سبب دے- په قرآنِ پاک کښې الله پاک د ټولو انسانانو نه يوه پوښتنه کړې ده، ډيره دغوروفکر او د سوچ لائقه پوښتنه ده، الله پاک فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ۙ﴿۶﴾
(پاره:30، سورۀ انفطار:6)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے انسانه! تۀ کوم څيز د خپل کرم والا رب په باره کښې په دوکه کښې واچولې-

دا پوښتنه زما نه هم ده، ستاسو نه هم ده، د زَيد، عَمرو، بَکر وغيره د ټولو نه ده، د ټولو په لحاظ سره به د دې جواب مختلف وي ❀ څوک د دُنيا محبت د الله پاک نه غافله

کړي دي ❁ څوک د مال طلب د الله پاک نه غافله کړي دي ❁ څوک د منصب خوښول د الله پاک نه غافله کړي دي ❁ څوک د فضولیاتو کثرت د الله پاک نه غافله کړي دي ❁ څوک د نفس خواهشاتو د الله پاک د یاد نه غافله کړي دي ❁ څوک حَسَد غافله کړي دي ❁ څوک بغض او کینې غافله کړي دي ❁ څوک د عزت او شهرت خواهش غافله کړي دي او یو څیز کوم چې شاید د ټولو د پاره وبالِ جان دے، څوک چې بچ شوي دي نو هغهٔ بچ شوي دي، د دې نه علاوه ټول د الله پاک د یاد نه غافله کوونکے یو څیز **سوشل میډیا** هم دے۔

داسې څومره خلق دي کوم چې د سوشل میډیا په وجه د الله پاک د یاد نه غافله دي، څومره داسې دي چې د سوشل میډیا په وجه ❁ د هغوئي نه جَمعه قضا کیږي ❁ نـمونځونه قضا کیږي ❁ روزانه د فیس بُک کولو وخت میلاؤیږي خو افسوس چې روزانه ورته د قرآنِ کریم د کولاوهلو او د تلاوت کولو وخت نه میلاؤیږي ❁ یوټیوب روزانه بغیر د قضا کیدو نه ګوري خو درودِ پاک روزانه نه وئیلے کیږي ❁ په واټس ایپ باندې روزانه سټیټس ګوري په ورځ کښې یـې بیا بیا ګوري خو د الله پاک یاد روزانه نه راځي ❁ په فیس بُک باندې پوسټونه لګوي او بیا بیا یـې ګوري چې څومره لائیکس پرې راغلي دي؟ څومره ویوز پرې راغلي دي؟ ❁ که په جومات کښې وي او که په بازار کښې ❁ په مارکیټ کښې وي او که په هوټل کښې ❁ که د یو بزرګ په مزار مبارک کښې وي او که د نیکې هستۍ په خوا کښې ❁ که د عاشقانِ رسول علمائے کرامو په خِدمت کښې وي او که په کور کښې ❁ که په حرمِ پاک کښې وي او که په مدینه مُنَوَّره کښې ❁ تر دې پورې چې بالکل کعبې شریفې ته مخامخ ❁ بالکل د شنو جنګلو مخې ته یـې هم موبائل په لاس کښې نیولے وي، بس یو فِکر ورسره وي چې **سیلفي (*Selfie*)** جوړه کړم! **فیس بک ته یـې وخیژووم۔۔۔!!** بس د دومره فضول فِکر په وجه خلق څومره

اهمې موقعې ضائع کړي، ❀ د دعاګانو د قبليدو وختونه وي ❀ مُقَدَّس ځايونه وي ❀ په داسې ځايونو کښې، په داسې موقعو باندې د دعاګانو کولو په ځائے ❀ د دې ځايونو نه د برکت حاصلولو په ځائے ❀ د خپلې بخښنې او د مغفرت ذريعې جوړولو په ځائے خلق په سيلفيانو کښې وخت تباه کوي۔

دن لہو میں کھونا تجھے شب صبح تک سونا تجھے | شرمِ نبی خوفِ خدا یہ بھی نہیں وہ بھی نہیں

وضاحت: افسوس چې شپه ورځ په نافرمانو کښې، په غفلتونو کښې، په فضولياتو کښې تيرولے شي، او د پاڅه پرې دا ظلم چې نۀ ورسره د الله پاک نه ويره وي او نۀ د نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يوې خبرې شرم چې سبا به د قيامت په ورځ دې هستيانو ته څنګه مخامخ کيږم۔

## انسان په نقصان کښې دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! الله پاک وفرمائيل:

وَالْعَصْرِ ﴿۱﴾ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ ﴿۲﴾
(پاره:30، سورۂ عصر:1-2 )

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: د زمانے قَسَم- بے شکه انسان ضرور په خساره کښې دے۔

د دې په تفسير کښې امام حسن بصري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: دلته د عصر نه مُراد د مازديګر وخت دے او د د دې د قَسم کولو سره الله پاک مونږ له خبردارے راکړے دے چې لکه څنګه چې د مازديګر وخت د ورځې د ختميدو وخت دے، په دې وخت کښې کار کوونکي، په بازار کښې دکانونه چلوونکي خپل دکانونه بندول شروع کوي، اوس هُغه وخت رانزدې کيږي چې چا په ټوله ورځ کښې څۀ نه وي ګټلي، ډير زر به هُم هغۀ خپل کور ته رسي، د هغۀ بال بچ، کور والا به هغۀ ته راټوليږي او د پيسو او د خوراک

وغيره غوښتنه به کوي-په دغه وخت کښي به دا د شرم سره مخ کيږي، هم داسې اے انسانه! دُنيا د خپل مازديګر په وخت باندې ولاړه ده، قيامت رانزدې شوے دے، ډير زر به مرګ خپل جال خور کړي، ستا رُوح به ويستلے شي، تهٔ به تيارهٔ قبر ته کوز کړے شي، آه! هُغه نادانه څوک چې په غفلت کښې خپلې شپې ورځې تيروي، هغهٔ څومره په خساره کښې دے؟ څومره په نقصان کښې دے- آؤ! آؤ! زر، ډير زر به حشر کيږي، قيامت به قائميږي او مونږ به د رَبّ په حضور کښې پيش کولے شي، بيا به زمونږ نه پوښتنه کيږي چې په دُنيا کښې مو څهٔ وکټل؟ د الله پاک د ورکړے شوو نعمتونو مو څومره حق ادا کړو؟ د هر نعمت په باره کښې به پوښتنه کولے شي- الله پاک فرمائي: (1)

| | |
|---|---|
| اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۱﴾ (پاره:17، سورهٔ انبياء:1) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د خلقو حساب نزدې راغے او هغوئي په غفلت کښې مخونه اړولي دي- |

*_*_*_*_*

| | |
|---|---|
| اے رب کے حبیب آؤ! اے میرے طبیب آؤ!<br>گولاکھ کروں کوشش، اِصلاح نہیں ہوتی | اچھا یہ گناہوں کا بیمار نہیں ہوتا<br>پاکیزہ گناہوں سے کردار نہیں ہوتا(2) |

## کار وايه--- زما تادي ده

د بنو تميم قبيلې يو کَس وائي چې يو ځل زهٔ د حضرت عامِر بن عبد الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خِدمت کښې حاضر شوم، چې کله ورسيدم نو هغوئي نـمونځ ادا کولو، زهٔ په انتظار کښې کښيناستم، هغوئي چې څنګه سلام وګرځولو نو اوئې فرمائيل: خپل کار وايه---!! زهٔ په

---

[1]... تفسیر کبیر، پارہ:30،سورۂ عصر، زیرِآیت:،جلد:11، صفحہ:278 خلاصۃً۔
[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:163۔

تادی کښې یم- ما عرض وکړو: څهٔ تادي ده؟ اوئې فرمائیل: اللّٰه پاک دې پهٔ تا باندې رحم وکړي، هیڅ پته نه لګي چې کله به ملک الموت عَلَیْهِ السَّلَام راځي (یعنې معلومه نه ده چې ژوند څومره پاتې دے، ځکه ما ته ډیرې نیکۍ جمع کول دي، دا تادي ده)- (حفظ العمر، ص:۴۹)

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ! دا وو د اللّٰه پاک نیکان بندګان، د اخرت تیاري کوونکي خلق--!! زمونږ سره خو ډیر وخت دے، درې څلور ګینټې خو پهٔ سوشل میډیا باندې داسې فضول بنه پهٔ اسانه تیروو، افسوس چې زمونږ سره د وخت هیڅ قدر نشته خو یاد ساتئ چې ژوند مو پهٔ کومو کارونو کښې تیر کړے دے، د قیامت پهٔ ورځ به د دې حساب ورکول وي-

## بے شکه هغوئي پهٔ لویه ګمراهۍ کښې دي

علامه اِبنِ جوزي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه لیکي: یو ځل حضرت منصُور بن عمّار رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د خلیفه عبدُ المَلِک بن مَروَان خوا له تشریف یوړلو، خلیفه وه وئیل: اے منصوره! زهٔ تاسو له یو کال وخت درکووم، د یو سوال جواب ولټوئ او راوړئ! هغه سوال دا دے چې د ټولو نه زیات عقل مند څوک دے؟ او د ټول نه زیات جاهل څوک دے؟ د عبدُ المَلِک بن مَروَان سوال یې چې واوریدو نو حضرت منصور بن عمّار رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه واپس لاړو، لا د محل دروازې ته نزدې شوے وو چې واپس راغلو- عبدُ المَلِک بن مَروَان وه وئیل: واپس ولې راغلې؟ اوئې فرمائیل: جواب میلاؤ شو، هغهٔ دا چې د ټولو نه زیات عقل مند هغهٔ دے څوک چې نیکۍ هم وکړي او د اللّٰه پاک نه هم ویریږي او د ټولو نه زیات جاهل هغهٔ دے څوک چې ګناه کوي او بیا هم خپل ځان د عذاب نه محفوظ ګڼي- دا د عبرت نه ډک جواب یې چې واوریدو نو عبدُ المَلِک بن مَروَان بے اختیاره پهٔ ژړا شو، دومره یې وژړل، دومره یې وژړل چې پهٔ اوښکو باندې یې جامې لمدې شوې- بیا یې وه وئیل: اے

منصوره! پۀ خدائے مې دې قَسم وي! تاسو صحيح وه وئيل- بيا يــې وه وئيل: اے منصوره! د قرآنِ کريم يو آيت وه وايئ! حضرت منصور بن عمّار رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه دا آيت مبارک تلاوت وکړو:

| | |
|---|---|
| يَوۡمَ تَجِدُ كُلُّ نَفۡسٍ مَّا عَمِلَتۡ مِنۡ خَيۡرٍ مُّحۡضَرًا ۚۛ وَّمَا عَمِلَتۡ مِنۡ سُوٓءٍ ۚۛ تَوَدُّ لَوۡ اَنَّ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَهٗۤ اَمَدًۢا بَعِيۡدًا ؕ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفۡسَهٗ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوۡفٌۢ بِالۡعِبَادِ ﴿۳۰﴾ (پاره:3، سورۀ آلِ عمران:30) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: پۀ کومه ورځ به چې هر کس خپل ټول ښه او بد اعمال خپلې مخې ته موجود مومي، نو خواهش به کوي چې د هغۀ او د هغۀ د اعمالو پۀ مينځ کښې څۀ لرې لرې فاصلے (جوړې) شي، او اللّٰه تاسو د خپل عذاب نه ويروي، او اللّٰه پۀ بندګانو باندې ډير مهربانه دے- |

دا آيت مبارک يــې چې واوريدو نو پۀ عبدُ المَلِک بن مَروَان باندې ويره غالبه شوه، اوئې وئيل: اے منصوره! تا زۀ وه وژلم- دا يــې چې وه وئيل نو پۀ زمکه باندې راپريوتو او بے هوشه شو- بيا چې کله ښه شو نو اوئې وئيل: اے منصوره! د اللّٰه پاک فرمان دے:

| | |
|---|---|
| وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفۡسَهٗ ؕ (پاره:3، سورۀ آلِ عمران:30) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او اللّٰه تاسو د خپل عذاب نه ويروي- |

د دې څۀ مطلب دے؟ اوئې فرمائيل: د دې مطلب دا دے چې اللّٰه پاک تاسو د خپل ګرفت او د عذاب نه ويروي- دا يــې چې واوريدل نو عبدُ المَلِک بن مَروَان بيا پۀ ژړا شو- بيا چې کله ښه شو نو پوښتنه يــې وکړه: د اللّٰه پاک فرمان دے:

| | |
|---|---|
| مَّا عَمِلَتۡ مِنۡ خَيۡرٍ مُّحۡضَرًا ۚۛ وَّمَا عَمِلَتۡ مِنۡ سُوٓءٍ ۚۛ (پاره:3، آلِ عمران:30) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: خپل ټول ښه او بد اعمال به خپلې مخې ته موجود مومي- |

د دې څۀ مطلب دے؟ اوئې فرمائيل: د قيامت پۀ ورځ به هره وره او غټه ګناه د بنده مخې

ته راوړے شي- دا يـې چې واوريدل نو عبدُ المَلِک بن مَروَان بیا په ژړا شو، تر دې پورې چې بے هوشي پرې راغله، چې کله په هوش کښې راغلو نو اوئې وئیل: په الله پاک مې دې قَسم وي! څوک چې په دې آیت باندې غور وکړي او بیا هم د الله پاک نافرماني کوي، بے شکه هغهٔ په لویه ګمراهۍ کښې دے- [1]

خُدائے قہّار ہے غضب پر، کُھلے ہیں بدکاریوں کے دفتر
بچالو آکر شفیعِ محشر تمہارا بندہ عذاب میں ہے [2]

الله پاک دې په مونږ باندې رحم وکړي! کاش چې مونږه د خپل وخت په قدر کولو، خپله دا قیمتي اثاثه په نیک کارونو کښې تیروونـکي جوړ شو-

## بد نظري زياتيږي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د سوشل میډیا په لویو لویو نقصانونو کښې یو لوئې نقصان دا دے چې د دې په ذریعه د سترګو ګناهونه هم زیات شوي دي، د غوږونو ګناهونه هم زیات شوي دي- بس یوټیوب، فیس بُک وغیره کولاوهل وي چې بد نظري شروع شي- اوس خو دا حالت دے چې که څوک څهٔ ښه څیز هم پوسټ کړي، نعتِ پاک پوسټ کړي، د عاشقانِ رسول علمائے کرامو بیانونه پوسټ کړي، په شروع کښې یو څو سیکنډه ایډ راځي، په دې کښې میوزک هم وي، د بد نظرۍ ذریعه پکښې هم وي- غرض دا چې د دې په ذریعه د سترګو او غوږونو ګناهونه ډیر زیات شوي دي او دا ډیره سخته ګناه ده- الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

---

1... بستان الواعظین، مجلس فی قولہ تعالٰی:یوم تاتی کل...الخ، حکایۃ عن احد الصالحین، صفحہ:79 ملتقطًا۔
2... حدائقِ بخشش، صفحہ:181۔

| | |
|---|---|
| اِنَّ السَّمۡعَ وَ الۡبَصَرَ وَ الۡفُؤَادَ کُلُّ اُولٰٓئِکَ کَانَ عَنۡہُ مَسۡـُٔوۡلًا ﴿۳۶﴾ (پاره:15، سورۂ بنی اسرائيل:36) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: بے شکه د غوږ او سترګې او زړۀ، د دې ټولو په باره کښې به تپوس کيږي- |

پۀ حديثِ پاک کښې دي: اَلْعَيْنَانِ تَزْنِيَانِ سترګې هم بدکاري کوي ❁ د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: زِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ د سترګو بدکاري ليدل دي-

## دبد نظرۍ وبال

فرمان مصطفي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم :ياخو به تاسوخپل نظرونه ښکته ساتئ او دخپلو سترونو به حفاظت کوئ يابه الله پاک ستاسو شکلونه وران کړي -

په يوبل حديث پاک کښي دي: آخري نبي،مکي مدني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو(بے پرده زنانه ته)کتونکي باندي او په(هغه زنانه)باندي چا ته چي اوکتل شول د الله پاک لعنت-

مشهورمفسرقرآن مفتي احمد يارخان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ددي حديث پاک لاندي ليکي:مطلب دادے چي کوم سړے پردئ زنانه ته قصدا بغيرد ضرورت نه اوګوري په هغه هُم لعنت دے او کومه زنانه چي قصدا بغير دضرورت نه پردي سړي ته ځان وښائي په هغي هُم لعنت دےغرض دادے چي په دي کښي به3قيدونه لګيږي(1)پردئ زنانه ته کتل(2)بغير دضرورت نه کتل(3)قصدا کتل

## د زنانوٓ خادر ته هم مۀ ګورئ

حضرت علاء بن زياد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: لَا تَتَّبِعْ بَصَرَكَ رِدَاءَ الْمَرْاَةِ فَاِنَّ النَّظَرَ يَجْعَلُ فِي الْقَلْبِ شَهْوَةً خپل نظر د زنانه پۀ څادر هم مۀ غورځوئ ځکه چي نظر پۀ زړۀ کښي شهوت پيدا کوي-

الله! الله! غور وکړئ چې مونږه د پرده دارې زنانه څادر ته د کتلو نه هم منع کولے شي چې د دې سره په زړهٔ کښې شهوت پيدا کيږي- افسوس چې پهٔ سوشل ميډيا خو د څادر هډو سوال نه پيدا کيږي، د سوشل ميډيا ښکلا جوړيدونکي زنانه چې پوره جامې اغوستې وي نو دا هم غنيمت دے- چې د پرده دارې زنانه څادر ته د کتلو سره هم پهٔ زړهٔ کښې شهوت راپيدا کيږي نو غور وکړئ چې د نيمې نه زياتې بےلباسه زنانه ته د کتلو سره به د زړهٔ څهٔ حال وي--!! هُم دا وجه ده چې زمونږه پهٔ معاشره کښې د جنسي زياتي واقعې زياتيږي، زنا عام کيږي، د وړو وړو جينکو ماشومانو عزتونه محفوظ نه دي- ظالمان خلق د خلورو پينځوو کالو وړو جينکو ماشومانو سره جنسي زياتے (**Sexual violence**) کوي او پهٔ بے دردۍ سره يې وژني- اَلْاَمَانوَالْحَفِيْظ!

اے خاصۂ خاصانِ رُسُل وقتِ دُعا ہے
امت پہ تری آ کے عجب وقت پڑا ہے
جو دین بڑی شان سے نکلا تھا وطن سے
پردیس میں وہ آج غریب الغربا ہے
جس دین کے مدعو تھے کبھی قیصرو کسریٰ
خود آج وہ مہمان سرائے فقرا ہے

## د خپلو سترګو حفاظت وکړئ

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! سوشل ميډيا د هر يو ګس ضرورت جوړ شوے دے، البته! د دې صحيح استعمال خو زمونږه پهٔ اختيار کښې دے، اول خو دا چې د دې نه ځان ساتل پکار دي! بيا که د ضرورت د پاره يې استعمالوئ نو پهٔ دې کښې د بد نظرۍ نه ضرور بچ شئ! د مدينے تاجدار، د زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: مَامِنْ مُسْلِمٍ يَنْظُرُاِلٰى مَحَاسِنِ امْرَاَةٍ اَوَّلَ مَرَّةٍ ثُمَّ يَغُضُّ بَصَرَهٗ اِلَّا اَحْدَثَ اللهُ لَهٗ عِبَادَةً يَجِدُ حَلَاوَتَهَا يعني کوم مسلمان چې د زنانه د خوبيانو طرف ته (بغير د ارادې نه) وړومبے نظر وکړي بيا خپلې سترګې ښکته کړي نو الله پاک به هغهٔ ته د داسې عبادت (توفيق) عطا کړي د کوم چې به هغهٔ مزه ومومي-

# د یوې سترګې والا سړے

حضرت کَعبُ الاَحبَار رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي چې د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام په زمانه کښې یو ځل قحط راغلو، خلقو د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام په بارګاه کښې درخواست وړاندې کړو چې دُعا وکړئ چې باران وشي- حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ارشاد وفرمائیلو: اُخْرُجُوْا مَعِیْ اِلَی الْجَبَلِ زما سره غر ته راځئ- ټول خلق ورسره روان شول نو هغوئي اعلان وکړو: لَا یَتْبَعْنِیْ رَجُلٌ اَصَابَ ذَنْبًا زما سره دې داسې ګس نه راځي چا چې څۀ ګناه کړې وي- دا یـې چې واوریدل نو ټول واپس لاړل، صرف (بَرخُ العَابِد نومې) د یوې سترګې والا سړے ورسره روان شو- حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام هغۀ ته وفرمائیل: اَلَمْ تَسْمَعْ مَا قُلْتُ؟ آیا تا زما خبره نه ده اوریدلې؟ عرض یـې وکړو: اوریدلې مې ده- پوښتنه یـې وکړه: آیا تا بالکل ګناه نه ده کړې؟ عرض یـې وکړو: یا کلیمَ الله! ما ته خو خپل څۀ جُرم یاد نه دے، البته! د یوې خبرې ذِکر کووم که هغه ګناه وي نو زۀ هم واپس ځم- اوئې فرمائیل: مَا هُوَ؟ هغه څۀ؟ عرض یـې وکړو: یوه ورځ ما په لاره د چا د پاتې کیدو ځائے ته په یوه سترګه وکتل نو ښوک ولاړ وو، د چا کور ته په داسې کتلو زۀ ډیر خفه شوم، په ما باندې د الله پاک ویره راغله او په ما پښیماني غالبه شوه او چې په کومه سترګه مې کتلي وو هغه مې ویستله او اومې غورځوله- ارشاد وفرمایئ! اِنْ کَانَ هٰذَا ذَنْبًا رَجَعْتُ که زما دا عمل ګناه وي نو زۀ هم ځم- حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام هغۀ د ځان سره کړو بیا غر ته لاړو او هغوئي هٰغه ګس ته ارشاد وفرمائیلو: د الله نه د باران سوال وکړه- هغۀ داسې دُعا وکړه: یَاقُدُّوْس! یَاقُدُّوْس! ستا خزانه چرې هم نۀ ختمیږي او بُخل ستا صفت نه دے، په خپل فضل او کرم باندې په مونږ باندې باران وکړې- فوراً باران وشو او حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام او هٰغه ګس د غر نه واپس لمدۀ راستانۀ شول-

سُبْحٰنَ الله! وګورئ! د بد نظری نه د بچ کیدو څومره عظیم فضیلت دے- الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي، کاش چې مونږه د بد نظر نه د بچ کیدو والا جوړ شو-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## آیاخپله سترکه ویستل جائز دي؟

دلته یوه خبره په ذهن کښې کښېنوئ!چې بے وجې خپل یو اندام پرېکول شرعاجائز نه دي زمونږه جسم د الله پاک امانت دے،مونږ په دې کښې خیانت نه شُوکولے،دکوم اندام نه چې ګناه وشي د هغه اندام د پرېکولوحکم په مخکښني شریعتونو کښې وو،الحمدلله!په مونږه کرم وشو،الله پاک مونږه د نبي التوبه(یعني ځپله توبه قبلوونکي او په الله پاک باندې هُم زمونږ توبه قبلوونکي) صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم امتیان جوړکړي یو،زمونږ دپاره دومره سخت احکام نشته دےبلکې اوفرمائیلے شول :چې په ګناه باندې د ربنتوني زړهٔ نه شرمنده شه!آئینده دپاره دګناه نهٔ کولو ټخه اراده وکړه!هُم دغه توبه ده د دې دپاره د اندامونو پرېکولو ضرورت نشته بلکې شرعاجائز هُم نه دي-

## غلط معلومات خورول

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د سوشل میډیا پهٔ نورو نقصانونو کښې یو نقصان دا هم دے چې د دې پهٔ ذریعه باندې غلط فهمی ډېرې خورېږي- غلط معلومات د یو ځائے نه بل ځائے ته بلکې پهٔ ټوله دُنیا کښې خورېږي- یو غلط پوسټ کیږي او هغه بیا بیا فارورډ (**Forward**) کیږي او د کوم ځائے نه کوم ځائے ته رسي- بیا د دې سره سره دلته دا هم یوه طریقه جوړه شوې ده چې خلق د دِین خبرې هم د سوشل میډیا نه زده کوي-

## د حدیث د تحقیق غلطه طریقه

یو اهلِ عِلم دے، هغهٔ وائي چې زهٔ یو ځل د کتابونو دُکان ته لاړم- هلته یو کَس موجود وو، شاید چې څوک د بدې عقیدې والا وو، بهر حال! زیات تعلیم یافته نه وو- هغهٔ د صحابئ رسول حضرت امیر معاوِیَه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پهٔ باره کښې منفي خبرې شروع کړې- ډیر څهٔ یې وه وئیل، نو د هغهٔ د پوهه کولو د پاره ما یو حدیثِ پاک بیان کړو، هغهٔ زر وه وئیل: چرته لیکلے شوے دے دا حدیثِ پاک--؟ حواله وښایه! هٰغه اهلِ عِلم وائي: زهٔ خو د کتابونو پهٔ دُکان کښې ووم، د مکتبة المدینه کتاب: **فیضانِ امیر مُعَاوِیَه** هلته پروت وو- ما کتاب راواخستو او هٰغه حدیثِ مې ورته سره د حوالې وښودلو-

هغهٔ حدیثِ پاک پهٔ خپلو سترګو باندې ولیدلو، بڅپله یې ولوستو، پکار خو دا وه چې هغهٔ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمان مبارک مخې ته سر ټیټ کړے وے، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان یې منلے وے خو--!! اوئې وئیل: ښه ټیک دهٔ--!! زهٔ به دا حدیث پهٔ ګوګل (***Google***) باندې سرچ (***Search***) کووم، بیا به یې څهٔ نتیجه راوباسم-

لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْم...!! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د افسوس خبره دهٔ- سوشل میډیا، انټرنیټ وغیره د عِلمِ دِین زده کولو ذریعې نهٔ دي-

## عِلمِ دِین د چا نه زده کول پکاردي

پهٔ **مسلم شریف** کښې دي: دا عِلم ستاسو دِین دے، بس غور وکړئ چې تاسو خپل دِین د چا نه زده کوئ--!

آیا تاسو ته معلومه ده چې زمونږه اَسلافو (یعني بزرګانِ دِین) حدیثونه مبارک څنګه راجمع

کړي دي؟ څومره په محنت باندې به يې عِلمِ دِين زده کولو؟ امام سُيُوطِي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ليکي: حضرت ابُو عبّاس مُستَغفري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته خبر ميلاؤ شو چې په مِصر کښې حضرت ابو حامِد مِصرِي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه حديثِ خالِد بن وَلِيد روايت کوي نو هغوئي خپل کور کلے پريښودو، د حديثِ خالِد بن وَلِيد اوريدو د پاره مِصر ته لاړو، د حضرت ابو حامِد مِصرِي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خدمت کښې حاضر شو، د حديث بيانولو عرض يې وکړو نو هغوئي وفرمائيل: وړومبے يو کال روژې ونيسه بيا به يې درته بيانووم- د حضرت ابو عبّاس رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د حديث اوريدو سره دومره شوق وو چې هغوئي يو کال روژې ونيولې، بيا حاضر شو او د حديثِ خالِد بن وَلِيد د اوريدو سعادت يې حاصل کړو-[(1)]

داسې حديثونه زده کولے شي، داسې په محنت کولو باندې عِلمِ دِين زده کيږي- زمونږ د پاره ډيره اسانه ذريعه جوړه شوې ده، مَعَاذَ الله! د سوشل ميډيا شوي يو، الله پاک دې پناه راعطا کړي، اوس ❁ د علمائے کرامو هم څۀ ضرورت نشته ❁ د مدرسانو هم څۀ ضرورت نشته ❁ بس د سوشل ميډيا په ذريعه به مونږه پخپله تحقيق کوونکي (***Researcher***) جوړ شو- د الله پاک پناه!

آؤ! دا خبره صحيح ده چې د سوشل ميډيا په ذريعه ❁ د عاشقانِ رسول علمائے کرامو د بيانونو اوريدو ❁ د مَدَنِي مذاکرې په کتلو ❁ د آئن لائن کورسونو وغيره په ذريعه هم عِلمِ دِين زده کيدے شي، دا هم د عِلمِ دِين زده کولو يوه اهمه او اسانه ذريعه ده خو سوشل ميډيا بنياد جوړول او د علمائے کرامو نه بے نيازه کيدل ډيره غلطه خبره ده- د دې په وجه زمونږه دِين بربادیدے هم شي- آؤ جي! د سوشل ميډيا په ذريعه د څومره خلقو عقيدې خرابې شوې دي، په سوشل ميډيا باندې ❁ مُلحِدِين (د خدائے نه انکار کوونکي) موجود دي ❁ د الله پاک نه انکار کوونکي بے عقله خلق دي ❁ د خوږ آقا و مولا،

---

[1]... جامع الاحاديث، جلد:19، صفحه:405، حديث:14922-

مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګستاخیانو کوونکو ❁ د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم ګستاخیانو کوونکو، خلقو خپل خپل دکانونه پرانستي دي او ناست دي، د چا سره چې څهٔ دي، هغهٔ خپله سودا خرخوي- دا زمونږه ذمه واري ده چې مونږه د دې نه ځان بچ کړو، د سوشل میډیا نه خپلې سترګې هم بچ کړو، خپل غوږونه هم بچ کړو، خپل زړهٔ هم بچ کړو، خپلې عقیدې هم بچ کړو او خپل ایمان هم بچ کړو- او دا چې کوم دلته وئیلے کیږي: اوره د ټولو، خو کوه خپله- دا بالکل غلطه خبره ده- مولانا حسن رضا خان صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه لیکي:

اپنا عزیز وہ ہے جسے تُو عزیز ہے
ہم کو ہے وہ پسند جسے آئے تُو پسند

مونږ به د ټولو نهٔ اورو، صرف د هاغو به اورو څوک چې ❁ د محبوبِ کریم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبرې کوي ❁ د چا د خبرو اوریدو سره چې پهٔ زړهٔ کښې عشقِ رسول زیاتیږي ❁ عشقِ صحابه زیاتیږي ❁ عشقِ اهلِ بیت زیاتیږي ❁ د اولیائے کرامو محبت زیاتیږي، د چا د خبرو نه چې ❁ د نفرت بوئي راځي ❁ څوک چې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم ګستاخیاني کوي ❁ د اولیائے کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡهِم ګستاخیاني کوي، د هغوئي خبره اوریدل خو غټه خبره ده، هغوئي ته د کتلو نه هم بچ کیدل پکار دي- الله پاک دې مونږ ته د دې توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د سوشل میډیا طِبّي نقصانونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د سوشل میډیا طبّي نقصانونه (***Medical damages***) هم ډیر زیات دي، مثلاً ❁ د سوشل میډیا زیات استعمال د ذهني زورنې ( ***Mental stress***) سبب جوړیږي ❁ بے چینې زیاتیږي ❁ ډپریشن (***Depression***) زیاتیږي ❁

د دې نه د بې خوبۍ (**_Insomnia_**) د خوب نه راتللو) بیماري هم لګیدے شي ❀ دغه شان د سوشل میډیا د زیات استعمال سره په خپل ځان اعتماد (**_self confidence_**) هم کمیږي ❀ د حقیقي دُنیا نه انسان کټ کیږي او زیاتره په خیالي دُنیا کښې اوسیدونکے جوړیږي ❀ د دې سره ناراستي زیاتیږي ❀ هاضمه خرابیږي ❀ نفسیاتي بیمارياني پیدا کیږي ❀ یادداشت کمزوري کیږي- د دې نه علاوه نور هم ډیر نقصانونه دي کوم چې د سوشل میډیا په ذریعه کیږي-

ځکه مونږ له پکار دي چې سوشل میډیا د کم نه کمه استعمال کړو او د ضرورت د پاره چې څومره استعمالول پکار ده، په هغې کښې احتیاط وکړو-

## د سوشل میډیا د استعمال یو څو احتیاطونه

د سوشل میډیا د استعمال یو څو احتیاطونه عرض کووم:

### (1): لَغو نه بچ ساتئ!

په قرآنِ کریم کښې د نیکانو بندګانو یو صفت بیان شو:

| | |
|---|---|
| وَاِذَا مَرُّوْا بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ﴿۷۲﴾<br>(پاره:19، سورۂ فرقان:72) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او چې کله د کومې بیهوده خبرې په خوا تیریږي نو د خپل عِزَّت بچ ساتلو سره تیر شي- |

یعني د الله پاک نیکان بندګان چې کله د لغو او بیهوده مجلس یا څیز په خوا تیریږي نو خپله ځان بچ کوي او تیریږي- ځکه د سوشل میډیا د استعمالولو په وخت د قرآنِ کریم دې نصیحت ته ضرور کتل پکار دي! که سوشل میډیا استعمالوئ نو په دې چې کومې بیهودګیانې دي، د هغې نه ځانه بچ ساتئ! ❀ بد نظري مهٔ کوئ! ❀ د میوزک وغیره اوریدو

نه ځان ساتئ! ❁ د بدې عقيدې لرونڪو خلقو خبرې مهٔ اورئ! ❁ د غير مسلمو او مُلحِدانو (***Atheists***) خبرې مهٔ اورئ! ❁ صرف او صرف د ضرورت د پاره يې استعمالوئ! صرف او صرف هُم د عاشقانِ رسول علمائے ڪرامو خبرې اورئ!

## د ټولو ټقالو نه بچ اوسئ!

يوه اهمه خبره دا چې پهٔ سوشل ميډيا باندې کوم مزاحيه ځيزونه دي، د ټوقو ټقالو ځيزونه دي، د هغې نه لرې اوسئ! دا يو قِسم له د جادو ځيزونه وي کوم چې زمونږه زړهٔ او دماغ قبضه کوي، د دې نه بچ کيدل ضروري دي، ګنې د دې پهٔ وجه د سوشل ميډيا عادت جوړيږي، يوه نشه شان پيدا کيږي، بيا بنده د دې نه نشي بچ کيدے- ځکه د مزاحيه ځيزونو نه بچ اوسئ! پهٔ حديثِ پاک کښې دي: وَيْلٌ لِّلَّذِىْ يُحَدِّثُ بِالْحَدِيْثِ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ فَيَكْذِبُ، وَيْلٌ لَهٗ، وَيْلٌ لَهٗ هغه ګس دې برباد شي څوک چې داسې خبره بيانوي، د پاره د دې چې پهٔ دې خلق وخاندي، ځکه هغهٔ تر دروغو پورې وئيلے شي، د داسې ګس د پاره دې بربادي وي، د داسې ګس د پاره دې بربادي وي-

## (2): مقصد لرونڪي اوسئ!

د سوشل ميډيا استعمال مقصدي جوړ کړئ! يعني د ضروري مقصد د پاره يې استعمالوئ! د دې نه علاوه يې مهٔ استعمالوئ! يو بزرګ تير شوے دے: شيخ تَاجُ الدِّين سکندري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه- هغوئي فرمائي: اَلْكَوْنُ كُلُّهٗ ظُلْمَةٌ وَاِنَّمَا اِنَارَهٗ ظُهُوْرُ الْحَقِ فِيْهِ دا ټوله دُنيا ظلمت او تيارهٔ ده، دا د الله پاک نوم دے کوم چې دا روښانه کوي- (حڪم عطائيه، ص:٣٤-٣٥)

د وئيلو مقصد مې دا دے چې د دې دُنيا هر کار د ظلمت او تيارې سبب دے، چې کله مونږ پهٔ دې کښې د الله پاک رضا شامله کړو نو هغه کار نيکي او نُور جوړيږي- بس سوشل

میډیا هم د ښه کارونو د پاره استعمالوئ! د داسې کارونو د پاره يې استعمالوئ! د کومې چې پۀ دُنیا یا پۀ اخرت کښې فائده وي، پۀ کومو کښې چې تاسو ښه نیتونه کولے شئ، ګڼې نو د دې نه لرې اوسئ!

## (3): وخت مقرر کړئ!

خپل ټائِم ټیبل (***Time table***) جوړ کړئ! او د سوشل میډیا د مقصدي استعمال د پاره هم یو خاص وخت کيږدئ! صرف پۀ هٰغه وخت کښې يې استعمالوئ! داسې دا احتیاط هم وکړئ چې کله هم موبائل پۀ لاس کښې راخلئ، د هغې نه مخکښې ښه ذهن جوړ کړئ چې زۀ د کوم مقصد د پاره موبائل راخلم، بیا چې کله هٰغه مقصد پوره شي نو موبائل کیږدئ! د دې نه علاوه نور ایپلي کیشنز وغیره ته مۀ ځئ!

## (4): کور والؤ له وخت ورکوئ!

د کور والؤ د پاره پۀ خاص کړے شوي وخت کښې موبائل مۀ استعمالوئ! بلکې هٰغه وخت موبائل د خپل ځان نه لرې کړئ! دا ډیر اهم پوائنټ دے- افسوس چې د سوشل میډیا پۀ وجه خلق خپل کور والؤ له، خپلو بچو له پوره وخت نه ورکوي، یاد ساتئ! زمونږه ښکلے دِینِ اِسلام مونږ ته د سوشل لائف (***Social life***) تیرولو ترغیب راکوي، یعني مونږ له پکار دي چې د خپل کور والؤ سره، خپلوانو او عزیزانو سره وخت تیروو، هغوئ له وخت ورکوو، د هغوئ سره کښینو، خبرې ورسره کوو، د هغوئ فریادونه اورو، هغوئ له د نیکۍ دعوت ورکوو او د هغوئ سره ښه سلوک کوو او د نیکو والا ژوند تیروو-

## (5): د ریا نه ځان ساتئ!

خپلې نیکۍ پۀ ځان پورې محدود ساتئ! دا پۀ سوشل میډیا باندې مۀ شیئر کوئ! دا یو عام رُجحان جوړیږي چې خلق د سوشل میډیا پۀ ذریعه خپل نیک کارونه خوروي- پۀ

دې کېږي په ريا کېږي د انېښتو سخته اندېښنه ده، ځکه چې خومره کېدے شي خپلې نيکۍ پټې ساتئ! دا په سوشل ميډيا مهٔ خوروئ! صحابئ رسول حضرت شَدَّاد بن اَوس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: يوه ورځ ما د اُمَّت د غمخور، مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مخ مبارک باندې د پرېشانۍ نخښې وليدلې نو عرض مې وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زما مور پلار دې په تاسو باندې قربان شي!! دا د پرېشانۍ نخښې څهٔ دي؟ د اُمَّت په غم غمژن آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: يوه معامله ده د کومې په باره کښې چې زهٔ په خپل اُمَّت باندې وېرېږم- حضرت شَدَّاد رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: ما پوښتنه وکړه: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! هغه څهٔ معامله ده؟ اوئې فرمائيل: شِرک او پټ خواهش- ما عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! آيا ستاسو اُمَّت به په شِرک کښې اخته کيږي؟ په دې باندې يــې وفرمائيل: اے شَدَّاده! زما اُمَّت به د نمر، سپوږمۍ او کاڼو عبادت نه کوي خو زما اُمَّت به په خپلو اعمالو کښې ريا کوي- ما عرض وکړو: يا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! آيا ريا شِرک دے؟ اوئې فرمائيل: آؤ (ريا شرکِ اَصغر دے)- ما عرض وکړو: يا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! پټ خواهش څهٔ دے؟ اوئې فرمائيل: دا چې زما کوم اُمَّتي روژه ونيسي خو د څهٔ دُنيائي خواهش په وجه باندې روژه ماته کړي- (1)

په يو حديثِ پاک کښې دي: سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زما ستاسو په باره کښې د ټولو نه زيات د شِرکِ اَصغَر وېره ده- عرض وکړے شو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! شِرکِ اَصغر څهٔ دے؟ اوئې فرمائيل: ريا کول- بيا يــې وفرمائيل: د قيامت په ورځ باندې چې به کله خلقو ته د هغوئي د اعمالو بدله ورکولے شي

[1]... مستدرک، کتاب: الرقاق، جلد: 5، صفحہ: 470، حدیث: 8010-

نو ریا کوونکو ته به وئیلے شي: د هغوئي خوا له لاړ شئ چا ته چې به مو پهٔ دُنیا کښې خپل اعمال ښودل-[1]

| | |
|---|---|
| دے حُسنِ اخلاق کی دولت | کر دے عطا اِخلاص کی نعمت |
| مجھ کو خزانہ دے تقویٰ کا | یاالله! مری جھولی بھر دے[2] |

## (6): پهٔ موادو شئیر کولو کښې احتیاط کوئ!

د سوشل میډیا شپږم احتیاط دا دے چې پهٔ سوشل میډیا پهٔ موادو شیئر (***share***) کولو کښې دې ډیر احتیاط وکړے شي! ❀ ډیر د دروغو خبرې پهٔ سوشل میډیا باندې رواني وي، دا مخکښې مهٔ لیږئ! ❀ هره هغه خبره کومه چې د فتنې سبب جوړیدے شي ❀ کومه چې خلق د نیکئ نه لرې کولے شي ❀ د کومې پهٔ سبب چې پهٔ مسلمانانو کښې نفرت خوریدے شي ❀ کومه چې د چا د زړهٔ د ازاریدو سبب جوړیدے شي ❀ پهٔ کومو خبرو باندې چې اِسلام او سُنّیت ته نقصان رسیدے شي، داسې خبرې مهٔ بخپله لولئ! مهٔ یـې ګورئ! مهٔ داسې خبرې مخکښې لیږئ!

او یوه اهمه خبره ❀ چې د قرآنِ کریم آیت وي ❀ حدیثِ پاک وي ❀ یا څهٔ شرعي مسئله وي، تر څو پورې چې مو د یو مستند عاشقِ رسول عالِمِ دِین نه تصدیق نه وي کړے، تر هغه وخته پورې یـې وړاندې هیڅکله هم مهٔ لیږئ! پهٔ دې کښې سخته خطره ده- الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا<br>(پاره:7، سورة انعام:21) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د هغهٔ نه زیات ظالم څوک دے چې پهٔ الله پورې دروغ تړي- |

معلومه شوه چې پهٔ الله پاک پسې دروغ تړونکے د ټولو نه لوئي ظالِم دے، د مثال پهٔ

[1]... مسند احمد، جلد:9، صفحہ:591، حدیث:24273-
[2]... وسائلِ بخشش، صفحہ:123-

توګه مونږه د عربۍ څۀ عبارت ته آیت وه وئیلو او وړاندې مو ولیږلو خو پۀ حقیقت کښې هغه آیت نه وو نو دا به پۀ الله پاک پسې دروغ تړل وي، هم داسې که مونږه یوې خبرې ته حدیث وه وئیلو او وړاندې مو ولیږلو خو پۀ حقیقت کښې هغه حدیث نه وو نو دا پۀ رسولِ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دروغ شول- او څوک چې پۀ الله او پۀ رسول پسې دروغ تړي، هغۀ د ټولو نه لوئي ظالِم دے- ځکه د قرآن د آیتونو او د حدیثونو پۀ سوشل میډیا پۀ شیئر کولو کښې 100 فیصده احتیاط ضروري دے-

چا چې پۀ فیس بُک باندې، یوټیوب باندې، انسټاګرام یا واټس ایپ (***WhatsApp***) وغیره باندې غلطه مسئله پوسټ کړې وي نو هغۀ له پکار دي چې فوراً د هغې اِزاله وکړي، مثلاً داسې څۀ لیکل دې وکړي چې پۀ فلانکۍ ورځ ما فلانکے پوسټ کړے وو، پۀ هغې کښې دا خبره غلطه وه، صحیح دا ده- ځکه زۀ د خپلې غلطۍ نه توبه او رجوع کووم-

الله پاک دې مونږه د سوشل میډیا د تباهۍ نه محفوظ کړي او د دې سهولت دې راته صرف او صرف د صحیح او نیک استعمال توفیق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دعوتِ اِسلامي او د جدید ټیکنالوجۍ مثبت استعمال

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه واوریدل چې د سوشل میډیا که یو خوا د غلط استعمال نقصانونه شته نو بل خوا د دې صحیح استعمال د نیکو حاصلولو ذریعه هم ده- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِیني تحریک دعوتِ اِسلامي د 80نه ډیرو شعبه جاتو په ذریعه د دین په خدمت کښې مصروف دے په دې شعبه جاتو کښې یوه شعبه سوشل میډیا ډیپارټمنټ هم ده دکومې نه لاندې چې مختلف پلیټ فارمز(***Different platforms***)مثلاً، ۞ یوټیوب

۞فيس بک ۞انسټاگرام وغیره په ذریعه عاشقانِ رسول د الله پاک او د هغه دحبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داحکامو پابند جوړولو کوشش ۞د صحابه کرام او اهلبیت اطهار رَضِیَ اللہُ عَنْہُم د محبت جام ورکول۞د الله پاک د اولیاؤ رحمهم الله تعالی باادبه جوړولو۞د ربښتني اسلامي عقائدښودلو۞صحیح دیني معلومات ورکول دسعادت حاصلولو کوشش کوي-د دعوت اسلامي په مختلفوسوشل اکاؤنټونوباندي تقریبا641ملینه (***Million***) یعنی 6کروړه41لاکھ،فالورز(***Followers***)دي او د ویوز یعني کتونکو تعداد ئي د بلینز (***Billions***)یعني 100کروړه نه هم بره تلےدے-د دي نه علاوه یوه شعبه د دعوت اسلامي آئي ټي I.T ډیپارټمنټ ده د کومي له اړخه چي تراوسه پر 40 ویب سائټس ،32 موبائیل ایپلي کیشنز جاري شوي دي،د دغه ایپلي کیشنز نه یو ایپلي کیشن دعوت اسلامي ډیجیټل سروسز هم دے دکوم په ذریعه چي تاسو د دعوت اسلامي تمام سوشل میډیا پلیټ فارمز او ویب سائټس په اسانئ سره استعمالولےشئ-

## دټیلي تهون ترغیب

د الله پاک په لاره کښي د خرچ کولو بهترینه ذریعه د دعوت اسلامي دیني کارونو دپاره مالي امداد کول هم دي-الحمدلله!دعاشقان رسول دیني تحریک دعوت اسلامي په ټوله دنیاکښي ددین اسلام د خدمت کوشش کوي ،تراوسه پوري يي په سلګونو جماعتونه جوړ کړي دي،دماشومانوجینکو او هلکانو دپاره جُدا جُدا د قرآن د تعلیم ورکول دپاره اوسه پوري په ټوله دنیاکښي د15زره نه زیاتي مدرسه المدینه قائم شوي دي،په کومو کښي چي د4لاکهه نه زیات ماشومان او ماشوماني مفت تعلیم حاصلوي،تقریبا1500جامعات المدینه جوړي کړے شوي دي په کومو کښي چي 1لاکه،23زره طلبه وطالبات مفت علم دین حاصلوي،دشرعي رهنمائي دپاره تقریبا21دارالافتاء اهل سنت قائم شوي

دي،دعلمي تحقيقي شعبي المدينه العلميه د طرف نه په مختلفو موضوعاتو باندي په 1784كتابونه او رسالو باندي كار شوي دے،په سيټلائټ باندي اردو،انګلش اور بنګله 3ژبو كښي مدني چينل چليږي -

د دعوت اسلامي د ټولو شعبه جاتو د اخراجاتو پوره كولودپاره اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په3نومبر باندي كيدووالادے:ټيلي تهون،د دي يو يونټ 10زره پاكستانی روپےدے،تاسو هُم د دين په دي كار كښي خپله حصه شامل كړئ،د ټيلي تهون په ذريعه خپل عطيات دعوت اسلامي ته وركړئ،ستاسو چنده به په هريوجائز ديني،اصلاحي،فلاحي،روحاني، او دخير په كارونو كښي خرچ كولے شي-

دعوت اسلامی کی قیُّوم،سارے جہاں میں مچ جائےدُھوم | اس پہ فدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

## دُعائے عطّار

څوک چي په ټيلي تهون كښي خپله حصه شامل كړي ،شيخ طريقت،اميراهلسنت دامت بركاتهم العاليه هغه ته دعاګاني هُم كړي دي -هغوي دعاكوي:اےرب مصطفي!په3نومبر2024باندي چي د دعوت اسلامي ديني كارونو د فنډجمع كولو په سلسله كښي چي كوم ټيلي تهون كيږي،يا الله په دغه كښي يا د اوس نه چي څوک خپله حصه شامله كړي ےکم څه ےکم يو يونټ جمع كړي(كوم چي 10زره روپےدے)يا چاله د دي ترغيب وركړي يا د دي دپاره منډه تړره ووښي-اے الله پاكه!د دي نه مخكښي هغه له مرګ مه راولي تركومه پوري چي ئي ستا د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب كښي زيارت نه وي كړےاود هغه سره د موراو پلاره مغفرت نصيب كړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: علاقائي دوره

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د حج د شوق، د مکے د شوق، د مدينے د شوق بلکې د مدينے د بادشاه عشق په زړۀ کښې د زياتولو د پاره د دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي- په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار علاقائي دوره هم ده-

❁ د حديثِ پاک خلاصه ده: په کومه ښپه باندې چې د الله پاک په لاره کښې دوره پريوځي، هغې ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کيږي [1] ❁ د نيکۍ دعوت ورکولو او د ګناه نه د منع کولو د پاره د کور نه وتل هم د الله پاک په لاره کښې وتل دي ❁ زمونږه خوږ آقا او مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نيکۍ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشريف وړلو ❁ مختلفو قبائلو ته به يے د تللو سره هم د نيکۍ دعوت ورکولو

❁ د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې ښکلې ادا د ادا کولو کوشش کوي ❁ کور کور، دُکان دُکان ته د تللو سره د نيکۍ دعوت ورکولے شي ❁ خلقو ته جومات ته د راتللو دعوت ورکولے شي ❁ د نـمونځونو ترغيب ورکولے شي ❁ مونږ دې ته علاقائي دوره وايـو-

تاسو ته په دې علاقائي دوره کښې عملي طور د شامليدو خواست دے، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دې به درته ډير برکتونه در نصيب شي- راځئ چې ستاسو د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

---

[1]... مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حديث:16356۔

## شرابي د مَدَني قافلې مسافر جوړ شو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د عاشقانِ رسول يوه مَدَني قافله ګېړوَنج (ګجرات، هندوستان) ته ورسيدله، قافله کښې شرکت کوونکو د علاقائي دورې د پاره د جومات نه بهر تشريف يوړلو، په علاقائي دوره کښې په يو شرابي باندې انفرادي کوشش وکړے شو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هغه شرابي د قافلې والؤ سره د جومات طرف ته روان شو، اِسلامي ورونو د هغهٔ سره دومره د ښه اخلاقو مظاهره وکړه چې هغهٔ شپږ ورځې د مَدَني قافلې والؤ سره وو، د علاقائي دورې په برکت او د عاشقانِ رسول د صحبت په وجه هغهٔ د ګناهونو نه توبه کړه، ګيره مبارکه يې لويه کړه، عمامه شريف يې هم په سر کړه- داسې يو شرابي د علاقائي دورې په برکت نيک نـمونځ ګزاره جوړ شو-

گر آئے شرابی مٹے ہر خرابی
چڑھائے گا ایسا نشہ دینی ماحول
یقیناً مقدر کا وہ ہے سکندر
جسے خیر سے مل گیا دینی ماحول

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي په ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل لائيو **هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې په ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس اته نيمې بجے په مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، په کومه کښې چې به شيخِ طريقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو

جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د خوراک 92 سُنَّت او آداب** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او ځوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❁ د دعوتِ اِسلامي علمي او تحقيقي شعبې الـمدينة الـعلميه د **اُمَّهَاتُ الْمُؤمِنِين** رَضِيَ اللهُ عَنْهُن د فضائلو، د هغوئي د سيرت مبارک او د هغوئي د دِيني خدماتو په ذِکر باندې د مشتمل کتاب **فَيضَانِ اُمَّهَاتُ الْمُؤمِنِين** د ليکلو شرف حاصل کړے دے، مکـتبة الـمدينه دا کتاب په ډير ښکلي انداز کښې چاپ کړے دے، تاسو دا کتاب په **450 روپۍ** په بيعه د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه حاصل کړئ، دا کتاب پخپله هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ! ❁ د غوثِ پاک شيخ عبد القادرجيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د لوئي يولسمي شريف په موقع مجلِسِ **تقسيمِ رسائل** وړاندې کوي: **فيضانِ غوثيه پيکج-** دا پيکج هم د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه په **200 روپۍ** په بيعه حاصل کړئ!

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِى فَقَدْ اَحَبَّنِى وَمَنْ اَحَبَّنِى كَانَ مَعِى فِى الْجَنَّةِ** چا چې زما د سُنّتو سره

محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک دي: (1)**: څوک چې وعده نه پوره کوي، د هغه هيڅ ايمان نشته- (2) **(2)**: کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي وکړي پۀ هغۀ باندې د الله پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے- (3)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** وعده پوره کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبيا دي ❀ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ خپله وعده کلک ولاړ وو او ❀ وعده ماتول به يې نه خوښول ❀ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو کَس هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عرض وکړو چې: تاسو ودريږئ! زه دا دے اوس راځم، هغه کَس لاړے خو واپس راتلل ترينه هير شول، 3 ورځې پس هغۀ ته بيا وریاد شول، چې کله هغه هٰغه ځائے ته راورسيدو نو حيران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تيريدو باوجود هم پۀ هٰغه ځائے کښې تشريف فرما وو او **مَاشَآءَ الله!** شفقت او رَحمت او ښه اخلاقو ته يې وګورئ! چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه کَس اونه رټلو او نه پۀ جلال کښې راغلے، بس دومره يې ووفرمائيل: اے سړيه! تا

---

1... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

2... مصنف اِبْنِ اَبِی شیبہ، کتاب:الایمان، جلد:7 صفحہ:223۔

3... بخاری، کتاب: جزیہ، صفحہ:815، حدیث:3179۔

زه پۀ مشقت کښې واچولم۔ [1] الله پاک دې مونږ هم پۀ سُنّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنتیں سیکھنے تین دن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1... اَبُوداؤد، کتاب ادب، باب فی العدة، صفحہ:781، حدیث:4996۔
2... وسائل بخشش، صفحہ:670۔